سر یال نمبر: 61

بسم الله الرحمن الرحیم

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# په څمکني جنګ کښ د ماتې وروست۔ نور ولي محسود پروپاګندو ته اړ شو

الله پاک په قران کريم کې فرمايلي دي

**ترجمه: اې مؤمنانو! که تاسو ته کوم فاسق خبر راوړي، نو ښه تحقيق وکړئ۔**

(سوره احجرات آيت نمبر 6)

له وروستيو وژنو او نيول کېدو وروسته د ترهګرو عملياتي موثريت په جدي توګه اغېزمن شوی او د ټي ټي پي منافقان مشران د دروغو تبليغاتو ته اړ شوي دي۔

**د ټي ټي پي د تبليغاتي ويډيوګانو (د جهاد سفر او معرکے تيزے دي) تر شا پټ انګېزې او د دروغو ادعاوې په لاندې ډول دي۔**

- **ټي ټي پي له سختو مالي او اداري ستونزو سره لاس او ګريوان دی او ترهګر د خپلو مشرتانو څخه کرکه لري. نور ولي محسود اړ دی چې د خپل شهرت د خوندي کولو په موخه د دروغو پروپاګندے ترسره کي۔**
- **د ترهګرو په وړاندې د پښتنو د زياتيدونکي نفرت له امله، ټي ټي پي د تازه ګمارلو او سيمه ايزو اسانتياوو په برخه کې له جدي ستونزو سره مخ ده، ټي ټي پي د خلکو ملاتړ ترلاسه کولو لپاره نوي تاکتيکونه کاروي۔**
- **په لوی شمير مرګونو او نيول کيدو وروسته د ترهګرو مورال ټيټ شوی ، د ټي ټي پي مشرتابه د بزدله ترهګرو مورال لوړولو کې ناکامه هڅه کوي۔**
- **ټي ټي پی په داخلي ګډوډی کې دی، د ټي ټي پي مشرتابه ناکامه هڅه کوي چې د پروپاګند ويډيوګانو او د دروغو ادعاګانو له لارې د خلکو پام له خپل داخلي اختلافاتو څخه واړوي۔**

د پاکستان خلک د ټي ټي پي له اصلي نيتونو ښه خبر دي او د هغې لخوا خپريدونکي دروغجن تبليغات په کلکه ردوي۔